ډاکټر عبدالرحمن زماني ۲۰۱۳/۰۵/۰۵

# په آزاد سرحد کې د مومندو مبارزې

(لومړۍ برخه)

**یادونه**

د مومندو دګوشتې دسیمې د اوسنیو پېښو په تړاو او دګڼ شمیر دوستانو د غوښتنې په اساس دادئ د ګرانو هیوادوالو د معلوماتو دپاره ددغې سیمې د لنډې تاریخچې، په سیمه کې د پردیو د مداخلې، د مومندو دتاریخي جګړو او غزاګانو، ډیورنډ کرښې او نورو موضوعاتو په هکله د مقالو یوه سلسله پیل کوم. د یادونې وړ ده چې ددغو معلوماتو زیاته برخه زما هغه کتاب ته د بیا کتنې ځخه برابره شویده کوم چې په ۲۰۱۰ میلادي کال کې « په آزاد سرحد کې د خپلواکۍ غوښتونکو مبارزو او دمومندو په مشهورو غزاګانو کې د غازي میرزمان خان د ونډې » تر عنوان لاندې خپور شویدئ.

## سریزه

پر افغانستان سربیره دپښتنو داوسیدو سیمه هم دخپل ستراتیژیک او جغرافیوي موقعیت له امله ددوې په ژوند او تاریخ باندې ژوره اغیزه درلودلې او لري. که افغانستان دتیري کوونکوګورستان، او افغانان په نړۍ کې د خارجي حاکمیت او پوځي تیري په وړاندې د مقاومت اتلان ګڼل کیږي، نو بیا دپردي ښکیلاک په وړاندې د پښتنو قبایلو د مبارزو تاریخ هم ډیر اوږد دئ. دوې چې اکثره یې د ډیورنډ د تپل شوې کرښې دواړو خواوو ته پراته دي، د خپلو رواجونو، ژبې، تاریخ، کلتور، قامولۍ او مذهب په مزو سره ټینګ تړل شویدي ـ ددوې افکار او احساسات، درد او رنځ، او خوشالي اوخپګان سره شریک او پریوبل اغېزه لري.

که پرون افغانستان دنړیوالو قدرتونو دسترې لوبې او سړې جګړې ډګر وو، او نن پکې په اصطلاح دتروررستانو سره دجګړې، دالقاعدې او طالبانو دبنسټ پالنې سره د مبارزې، دديموکراسۍ داعادې، دبشري حقوقو دحمایې، او ترهګرۍ په وړاندې دلویدیزو هیوادونو دامنیت په نامه جګړې رواني دي، نودپښتنو قبایلو داوسیدو سیمې هم که پرون دمغلو، بیا سکهانو او وروسته انګریزانو دلښکرو سره په جګړو ورګډې وې، نونن سبا دا سیمې او په خاصه توګه دآزاد سرحد قبایلي سیمې یو ځل بیا دنړیوالو طاقتونو دنوو وسلودآزموینې په لابراتوار، د ذینفعو هیوادونو د جیوپولیټیکو ګټو دټکر، او د مختلفو سیمه ایزو شخړو دحساب د تصفیې په ډګر بدلې شویدي. دغو شخړو اوجګړو نه یواځې په سیمه کې ژوند په ټپه ودرولای دئ، بلکې په درندې مرګ ژوبلې سربیره یې ددې سیمې په ملیونونو اوسیدونکي د بېکورۍ او نورو انساني ناوړینونو سره هم مخامخ کړیدي.

دآزاد سرحد قبایلي سیمې ته دهند د نیمې وچې ځخه د انګریزانو د وتلو او پاکستان دجوړیدو نه سمدلاسه وروسته نړیواله توجه هغه وخت یو ځل بیا جلب شوې وه، کله چې په زرهاوو پښتنو قبایلو په کشمیر حمله وکړه، هغه سیمه چې هندوستان ته په برخه رسیدلې وه(۱). تر هغې وروسته دا سیمه د پښتونستان دداعیې له امله د توجه مرکز وه، او بیا یې په افغانستان باندې د شوروي قواوو د تیرې نه وروسته د یوې لسیزې دپاره دافغاني مجاهدینو د وسله وال مقاومت، او امریکې په مرسته د پاکستان د نظامي ستراتیژیستانو دکمپاین د هڅو په ډول ډیر اهمیت ترلاسه کړ. د افغانستان ځخه دروسي لښکرو د وتلو نه وروسته د طالبانو د رژیم ملاتړ هم د آزاد سرحد دقبایلي سیمو له لارې سرته رسیده. د ۲۰۰۱ م کال دسپتمبر په یولسمې نیټې د القاعدې لخوا دامریکې په متحده ایالاتو د ځانمرګو بریدونو، او په افغانستان باندې د امریکې د ۲۰۰۲ کال د حملې نه وروسته هم دپښتنو قبایلو سیمې یو ځل بیا د القاعدې دغړو او پلویانو د پټنځای په نامه او دسخت دریزه اسلامي اورپکو د هڅو په ډول، او په اصطلاح د ترووریزم سره دجګړې د ثقل د مرکز په توګه خپل مهم ستراتیژیک ارزښت ساتلای دئ.

که څه هم دغه سرحدي سیمې دنړیوالو چارو په صحنه یا په بله ژبه دروسیې او انګریزانو، انګریزانو او افغانانو، پاکستان او افغانستان، او روسیې، امریکې او افغانانوپه جګړو کې ستر رول لوبلای دئ خو له بده مرغه ددې سیمې دخپلواکۍ غوښتونکو مبارزو دتاریخچې په هکله لیکل شوي کتابونه او آثار، هغه هم دپښتنو له خوا او په پښتو ژبه ډیر



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

لږ او په نشت حساب دي. زما ددې کوچنی څیړنې هدف هم په عامه توګه پدې هکله د معلوماتو وړاندې کول دي، په خاصه توګه دمومندو په مشهورو غزاګانو په هکله. د پښتنو د مومندو (مهمندو) قوم هغه ستر، پیاوړی او مهم قوم دئ چې په آزاد سرحد کي یي، د افریدو او وزیرو نه وروسته، بریتانوي هند ته تر ټولو زیاته سرخوږي پیښه کړېده. مومند د آزاد سرحد دنورو ټولو قبایلو په نسبت زیات تجرید شوي او پر خپله خاوره یې د پردو د تیري په وړاندې ډیر مقاومت ښودلي دئ. دانګریزانو په وړاندې د مومندو دبریالي مقاومت په سترو لاسته راوړنو کې، په خپله سیمه کې دډیورنډ دکرښې د نښه کیدو مخنیوې او همدا راز دسړکونو دجوړولو مخنیوی شامل دي، کوم چې په سرحد کې د استعماري نفوذ نښه ګڼل کیده.

محترم لوستونکي به پدې لیکنه کې دډیرونیو او اوسنیو حالاتو تر منځ ګڼ شباهتونه هم وموميء لکه دمذهب په نامه پیل شوي تحریک کي د پښتنو برخه اخیستل، په خپلو سیموکي سیاسي مجرمانو او فعالینوته پناه ورکول، او د حکومت دمطالبې د نه منلو له کبله دپښتونولی داصولو په اساس ددوی مرستې ته دنګل،او دافغانستان ددوامداري کورنی جګړې او بې ثباتي له امله ګاونډیانو ته د لاس وهنې دموقع په لاس ورتلل.

## د آزاد سرحد لنډه تاریخچه

د بریتانوي هندوستان او اوسني پاکستان شمال مغربي سرحدي سیمي د خپل جغرافیوي موقعیت له امله هم دهند د نیمي وچې، افغانستان او مرکزي اسیا په تاریخ کې او هم د انګریزانو د حکومت په دوره کې ډېر مهم رول لوبولي دئ. دغه سیمه د تقریبا ۳۹،۰۰۰ مربع میله په مساحت شمال او لویدیز ته د افغانستان، جنوب ته د بلوچستان او دیره غازي خان او ختیځ ته دکشمیر او پنجاب سره پولي لري. دې سیمي دشمالي او جنوبي اسیا ترمنځ دمدخل او دروازې حیثیت درلودلي دئ. که ددې سیمي تاریخ ته وکتل شي نو دا حقیقت به څرګند شي چې دی سیمي تل د سیاسي پلوه د هندوستان او اوسني پاکستان په نسبت د پخوانی اریانا، پارس او معاصر افغانستان سره نږدې ارتباط لرلی دئ(۲). پیښور د اوسني افغانستان د ژمي پایتخت هم ؤ.

ددې سیمې هغه برخه چې د آزاد سرحد یا قبایلي سیمې په نامه یادیږي، او نن سبا ورته د وفاقي حکومت تر اداري لاندې قبایلي سیمه (FATA ) (۳) ویل کیږي، نن هم هغه نیمه خودمختاره سیمه ده چې دافغانستان سره تقریبا دري سوه (۳۰۰) میله ګډسرحد لري. ددې سیمې پراخوالي لس زره پنځه سوه مربع میله دئ. د دې سیمې شمال لویدیز ته افغانستان، ختیځ ته د شمال مغربي سرحدي ایالت (پښتونخوا) او جنوب ته داوسني پاکستان د بلوچستان ایالتونه پراته دي.





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزي بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

## احمدشاهي امپراتوري

د آزاد سرحد د سيمي اوسيدونكي پښتانه قبايل كه څه هم په بيلابيلو څانګړو قبيلو لكه يوسفزو، مومندو، باجوړو (سالارزو، اُتمان خيلو او ماموندو)، خټكو، افريدو، شينوارو، وزيرو، مسودو، صافو، بنګښو، تُورو، مَروتو او نورو ويشل شوي، خو دتاريخ په اوږدو كي په خاصه توګه د خارجي تيري كوونكو په وړاندي سره يو شوي او د جنګياليو آزاد و پښتنو په توګه يې له افتخاره ډك شهرت ترلاسه كړيدئ. دغه قبايل په اصل كي افغانان دي او په عنعنوي توګه دافغاني واكمنانو تر سياسي اداري لاندې پاتي شويدي (٤). د احمد شاه بابا د واكمنى په دوران كي (١٧٤٧- ١٧٧٢ ) كشمير، پنجاب، سند او د خراسان ځيني برخي هم د افغانستان په امپراتورئ كي شاملي وې. د هغه وخت افغانستان د عثماني امپراتورئ نه وروسته په منځني ختيځ كي هغه ستر دولت وو چي دهندوستان سره دايران او منځني ختيځ، مركزي آسيا او شرقي تركستان په غزيدلو تجارتي لارو يې نظارت درلود(٥).

## په تدريجي توګه دافغانستان د خاوري دمهمو برخوجلاكيدل

د نولسمي پيړئ په لومړيو دوو لسيزو كي سكهانو د افغانانو د كورنيو جګړو نه د ګټي په اخيستوسره د ملتان، كشمير او پنجاب په ګډون د افغانستان د خاورې يوه لويه برخه لاسته راوړه. رنجيت سنګهـ د اباسين (سند ددرياب ) نه تير شو او د پيښور وادي او دديره جاتو سيمي يې ونيولي. رنجيت سنګهـ هغه څوك و چي شاه زمان ورته په هند باندي د ١٧٩٨ م كال د حملي په وخت كي د لاهور او پنجاب ايالتونه وركړي وو. په پنجاب كي درنجيت سنګهـ د واكمنى په پيل كيدو سره په سيمه كي د افغانانو حاكميت كمزوري شو او كار خو لا تر هغه ځايه ورسيد چي د ابدالي امپراتورئ وروستني وارث ، شاه شجاع، هم په ١٨٠٩ م كال كي د شاه محمود نه د ماتي د خوړلو وروسته د رنجيت سنګهـ دربار ته پناه يوووړه.

د١٨١٨ او ١٨٤٩ م كلونو ترمنځ سكهانو د اباسين نه پورې غاړه د پيښور او ديره جاتو په ګډون سيمو واكمني چلوله، چي د پښتنو ځيني قبايل يې هم تر اغيزې لاندي وو، خو دسكهانو واكمني يوازې هوارو سيمو ته او هغه هم د نظامى قلا وو (قلعه ګانو) شاوخوا ته محدوده وه . دوې نه يواځي په سيمه كي د يوې ملكي اداري په جوړولو لاس پورې نكړ، بلكه د امنيت په راوستلو كي هم ناكامه وو او د ماليي د راټولو په سر به تل د وسله وال مقاومت سره مخامخ وو(٦).

په هندوستان كي د انګريزانو د مداخلي نه وروسته دسكهانو حكومت كمزورې او د هغوي د مخكي تګ په مخنيوي كي ناكامه شو . انګريزانو په ١٨٤٣ م كال كي لومړي د سيند ايالت په خپل قلمرو كي شامل كړ او بيا يي په ١٨٤٩ م كال كي سكهانو ته د ماتي وركولو نه وروسته ټول پنجاب او د اباسين شمال لورئ ته د پيښور او ديره جاتو سيمي هم ونيولي . انګريزانو تر دې دمخه هم په ١٨٣٨ م كال كي د لاهور د مثلث د تړون (٧) په وسيله د فراري پاچا شاه شجاع نه د ځينو سيمو دنيولواعتراف اخيستي وو. خو د افغانستان خلكو دشاه شجاع په وژلو او د انګريزانو د لښكر په ماتولو سره دغه تړون باطله كړ.

## دانګريزانو په وخت كي څوځل د افغانستان د خاوري مهمي برخي جلا كړاى شوي:

لومړي ځل د ١٨٥٥ م كال د مارچ دمياشتي په ٣٠ نيټه د جمرود د معاهدي په اساس چي د انګريزانو د استازي' سر جان لارنس' او امير دوست محمد خان د زوې او وليعهد سردار غلام حيدر خان ترمنځ لاسليك شوه، ددې تړون په اساس اميردوست محمد خان د ځان او خپلي ورثي لخوا ژمنه كړيوه چي د شرقي هند د كمپنى (ختيځ هند شركت) سيمو ته به په درنه سترګه ګوري، په هغو كي به د لاس وهني نه ځان ژغوري او د شرقي هند د كمپنى سره به دوست او ددښمنانو سره به يې دښمن وي.

د١٨٥٤ كال راهيسي په بلوچستان كي هم په كرار كرار دانګريزانو نفوذ زيات شو. دقلات، مكران، خاران او لاس بيلي نوابى د انګريزانو تر حمايت لاندي راغلي .

بل ځل په ١٨٧٩ م كال كي د امير يعقوب خان سره د ګندمګ د تړون په اساس چي په هغي كي د كرمي، سيبي او پشين په ګډون دخيبر او ميچنئ سيمي انګريزانو ته په لاس ورغلى. انګريزي بلوچستان هم جوړ شو او د ژوب د ورشو نه د ژوب پوليټيكل ايجنسي جوړه شوه. د بلوچستان د نيولو نه وروسته د هند دبحر سره دافغانستان سرحد ختم او په بشپړه توګه په وچه كي راګير شو.

او بل ځل په ١٨٩٣ م كال كي د امير عبدالرحمن خان سره د ډيورنډ د موافقت نامي په اساس د آزاد سرحد ټولي قبايلي سيمي دافغانستان دخاورې نه جلا كړي شوي.

---



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همكارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيكه ټينګه كړئ maqalat@afghan-german.de

يادونه: دليكني د ليكنيزې بنې پازوالي د ليكوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليكنه له راليږلو مخكي په خير و لولئ

### په سیمه کې دانګرېزانو مداخله

انګرېزان دشرقي هند دکمپنۍ تر نامه لاندې دنورو اروپايي کمپنيو لکه پرتګالي، هالندي، دنمارکي، جرمني او فرانسوي کمپنيوپه شان هندوستان ته د تجارت او سوداګرۍ په پلمه راغلل، اودخپلوخاصواستعماري تاکتيکونو په کارولو سره يي کرار کرارخپل اروپايي رقيبان له ميدانه ويستلي او دمحلي واکمنانو او مغلو پاچاهانو دکمزورۍ نه په ګټې اخيستلو سره يي د پاچاهانو په غوره کولو او بيا پاچاهيو په بخښلو پيل وکړ. د دوی سياسي او نظامي طاقت کرار کرار دومره زيات شو چې نه يواځې د هند د نيمي وچې په واکمنانو بدل شول، بلکه وروسته يې په افغانستان هم بريدونه وکړل.(۸)

په هندوستان کې د انګريزانو دخالت د۱۶۰۰ م کال ددسمبر دمياشتي د ۳۱ نيټي نه پيل کيږي کله چې لومړنۍ ملکې اليزابتی د شرقي هند کمپنی (East India Company) ته د تجارت د خاصو حقوقود امتياز په ورکولو سره دهغې کمپنی منشور تصويب کړ. دزياتو ګټو دلاسته راوړلو او مغلي امپراتورۍ دکمزوري کولو نه وروسته په ۱۷۵۷ م کال کې دشرقي هند کمپنی هغه وخت په يوې حاکمې دستګاه بدله شوه، کله چې د رابرت کليو (Robert Clive) په نامه يوه عسکري منصبدار د "پلسي" په جګړه کې د بنګال د نواب شجاع الدوله قواوو ته ماتې ورکړه (۹). په ۱۸۳٤م کال کې د لندن چارواکو د شرقي هند دکمپنی د تجارتي نقاب په لرې کولو سره هغه په هندوستان باندې د بريتانيا د حکومت د چلولو په اداري بدله کړه.

کله چې انګريزانو د ۱۸٤۹ کال دفبروري په مياشت کې دګجرات په جګړه کې سکهانو ته ماتې ورکړه نو شمال مغربي سيمي يې هم، چې د پنجاب داداري لاندې وې لاسته راوړې او ورسره يې د سکهانو نه د افغانانو ددښمنۍ، د قبايلو دناسازګارۍ او غازيانو دجګړه مارۍ درې ستونزې هم په ميراث واخيستې (۱)،(۱۱). خو په سرحد کې دانګريزانو دمداخلي مقدمات تردې ډير دمخه پيل شوې وو.ايلفينستون Elphinstone او برنس Burnes د انګريزی امپراتورۍ د لويو مسايلو په خاطر په دې لاره تللي وو. ويليام مورکرافت William Moorcroft په ۱۸۲٤م کال کې دوزيرو سيمي ته په ننوتلو بريالي شوې، او چارلس ميسن Charles Masson، کوم چې په ۱۸۲۰ او ۱۸۳۰ کلونو کې په دې تولـه سيمه کې ګرځېدلي او دغو سيمو او داسې هم دافغانستان په ډيرو سيمو کې ګرځېدلي او ددوی تاريخ او ژوند يې څېړلي وو(۱۲).

انګريزانو له ۱۸٤۹ م کال نه تر ۱۹٤۷ م کاله پورې پوره يوه پيړۍ په شمال مغربي سيمه کې پاتې شول، خو دسرحد په پښتنو قبايلو حکومت کول ورته دستونزو ډک ثابت شول. دانګريزي ثبت شوو اسنادو له مخې دوی پدې موده کې د پښتنو قبايلو د سلو (۱۰۰) نه زياتوپاڅونونو سره مخامخ شول (۱۳). له همدې امله دشمال مغربي سرحدي سيمو په هکله د انګريزانو سياست مختلف پړاونه درلودل.

### د"تړلي سرحد" يا "Closed Boarder" پاليسي

د پنجاب د نيولو نه وروسته سرحد په هکله دانګريزانو تر ټولو محافظه کارانه سياست د"تړلي سرحد" يا "closed boarder" دپاليسی په نامه ياديده. ددې سياست ستره خاصه نښه داوه چې د قبايلو د حملو په وړاندې خپلې پولې ټينګې وساتي، دقبايلو په سيمو تيري ونکړي او د هغوی په چارو کې ګوتې ونه وهي، ددفاع د پاره د پنجاب دسرحدي قوې (Punjab Frontier Force) په نامه يوه عسکري قوه منځ ته راوړې. دوی موجودې قلاوې ترميم، او نوې عسکري قلاوې او امنيتي څوکې جوړې کړې او ددوی تر منځ د ارتباط دټينګولو دپاره يې عسکري سړکونه هم جوړ کړل.

د يوه انګريز څيرونکي او ديپلومات، فريزر – تيټلر په وينا، چې ډير کلونه يې دبريتانوي هند په شمال غربی ايالت او وروسته په کابل کې د انګريزانو په سفارت کې کارکړی، د افغانانو او انګريزانو د مناسباتو تر منځ د راتلونکو متعددو لانجو او تاوتريخوالي تخم له همدې ځايه کرل کيږي. هغه ليکي چې "دغره د قبايلو دريځ څه و؟ دتابعيت له مخې دوی افغانان دي او د احمد شاه دراني د امپراتورۍ د پاتې شوې قلمرو دننه ژوند کوي. که چيرې امير دوست محمد خان په دغو جنګياليوخلکو د حکمرانۍ طاقت درلودلای، نو بيا به پدې سيمه او خلکو د هغه د حاکميت د حق نه سترګې پټول ګران وای. د اميردوست محمد خان کمزورتيا سبب شوه چې دا قامونه په هغه وخت او تر هغې وروسته د ډيرو کلونو دپاره د آزاد و قبايلو په توګه وپيژندل شي." د آزاد و قبايلو، آزاد سرحد، علاقهٔ غير، ياغيستان او نورو اصطلاحاتو استعمال له همدې ځايه رواج وموند(۱٤).

(نوربيا)

---


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکې په خير و لولئ

## منابع


١. Haroon, Sana (2007). Frontier of Faith: Islam in the Indo-Afghan Borderland. (عقيدوي سرحد)، ٣٦ مخ
٢. Rose, H. A. (2002). Imperial Gazetter of India (دهندوستان شاهنشاهی جغرافيوی ډکشنری : شمال مغربي سرحدي ايالت)، ١٢ مخ
٣. Federally Administered Tribal Area
٤. ( Haroon, Sana (2007، ٣٦ مخ
٥. Noelle Christine (1997). State and Tribe in Nineteenth-Century Afghanistan; The Reign of Amir Dost Muhammad Khan. (دنولسمي پيړی په افغانستان کي حکومت او قبايل : دامير دوست محمد خان پاچاهي)، ٢ مخ
٦. Fraser-Tytler, W. K. (1967)، ١٨١ مخ.
٧ . امير دوست محمد خان د خپل پنځه کلن حاکميت په دوره کي کوښښ وکړ چي د پيښور سيمه د رنجيت سنګه نه ونيسي . د ١٨٣٨ م کال د جون په ٢۶ مه نيټه د هغي د مخنيوي او شاه شجاع د واک ته رسولو دپاره په لاهور کي دانګريزانو د استازي مکناټن، رنجيت سنګه او شاه شجاع ترمنځ يو تړون لاسليک شوې وو.
٩. پامير، پيکار (٢٠٠٩) ، ٢ مخ .
١٠. Roe, Andrew (2005). British Governance of the North-West Frontier (1919 to 11947): A (دانګريزانو لخوا د شمال مغربي سرحد اداره)، ٤ مخ.
١١. Fraser-Tytler, William K. (1967). Afghanistan: a Study of Political Developments in Central and Southern Asia. (افغانستان : دمنځنی او سويلي ايشيا سياسي انکشافات)، ١٨١ او ١٨٣ مخونه
١٢. Khan, Anwar M. (2000). The Role of N.W.F.P. in the Freedom Struggle (دآزادی په مبارزو کي دشمال مغربی سرحدي ايالت برخه)، ٧ او ١٠ مخونه
١٣. Spain, James W. (1963). The Pathan borderland. (دپښتنو سرحدي سيمه) ، ١٠١ مخ
١٤. . زماني، عبدالرحمن (٢٠٠٧). جنگ استرداد استقلال افغانستان: جبهۀ فراموش شدۀ چترال و کنر، ٦٣ مخ.




افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ